# Alfnama (Si Harfi) its Origin and Evolution in Pashtu Literature

# (الف نامه (سي حرفي)

# او پښتو شعري ادب کښې د الف نامې ابتدا او ارتقاء

**Mr. Azmat Ali**★

**Abstract:**

Alfnama (Si Harfi) and its mystical study in Pashtu literature and its origin in Literature is the topic, Roshnite school of Pashtu poetry is one of the enthralling schools in Pashtu literature. The mystical poetry and their work have been explored and modified by several scholars, but this research article is, Alfnama (Si Harfi) and its mystical study in Pashtu Literature and its origin is the fundamental and unique in its nature. The study is a significant work due to its nature to find out the origin and spread of sophistic terminologies and thoughts in Pashtu literature with reference to Roshnite's school of mystical thoughts. The Alfnama (Si Harfi) is the poetic words initially based on **28** Arabic alphabets and later it reached to **30** with the addition of two alphabets that was the innovation of Roshnites. Alfnama is usually contained on the intuition of the mystics, spiritual thoughts and blessings bestowed by divine power in the shape of verses that usually adjusted in Alfnama with alphabetic order. This fundamental poetic transmission of divinely knowledge was for the laymen in local dialect for the understanding of primary disciple (mubtadi) to the high -level mystic (muntahi) who were aware of its secrets. The work will start from introduction, origin, and its different factors contributed to the development of the specific changes in different poetical works of Pashtu Literature in the field of Alfnama (Si Harfi). The primary poetical work of Mullah Arzani Kheshgi is the fundamental who had been a source of inspiration for the Roshnites in the early decade of this movement and after that following them different poets wrote Alfnama (Si Harfi) in different languages.

**Key Words:** Alfnama (SiHarfi), Sophistic Terminologies, Origin and Evolution, Kinds of Words, Factors of Alfnama

★ PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

## الف نامه

د الف نامې نه مراد حروف دي او د حروفو اسرار بيانول دي:

الف نامه د تصوفي علم نه ډک يو "حروفي" نظم وي چې يو مخصوص فارم يا شکل پورې محدوده نه ده خو بيا هم زيات تره دغزل قصيدې، مربع او مخمس يا مسدس نما مخارج کښې ليکل شوي وي-

دا حروفي نظم چې په کوم اساس ليکلے شي هغه (۲۸) الهي اسماء دي، د دې الهي اسماء مقابل (۲۸) کوني اسماء دي کومو ته چې عاليه حروف يا "حروفِ عاليات" وئيلے شي- ددې عاليه حروف په څرګندونه (مظاهر)(۲۸) ملفوظي حروف دي کوم چې په لغوتو او ژبو کښې مروج دي او استعمالېږي-

صوفي شعراء په دې کښې مزيد دوه توري "لا" (ل+ا) شاملوي نو دغه شان ددې تورو شمېر د ېرشو (۳۰) تورو ته رسي-

هم پدې وجه دې حروفي نظم ته په فارسۍ ژبه کښې(سي حرفي) يعنې د دېرشو تورو والا نظم وئيلے شي-

صوفي شعراؤ ددې ملفوظي تورو (حروفي تهجي) نه ترتيب وار د هر يو توري په ذريعه د کاينات د تخليق پټ رازونه ښکاره کړي دي- دې سره سره عارفانه ذوق او شوق لرونکو لپاره ئې د توحيد اسرار او رموز د حروفو په معنيو کښې بيان کړي دي- او د ذوقي سرور او مستۍ باعث جوړ شوي دي-

صوفي شعراؤ هم د دې الف نامو په ذريعه د شريعت، طريقت حقيقت او معرفت پټ رازونه هم څرګند کړي دي او بيائې مذهبي او اخلاقي مسئلې په حکيمانه انداز کښې بيان کړي دي- او اورېدونکو او لوستونکو ته ئې آسانۍ پېدا کړي دي- او خپلو عقيدت مندو ته ئې د يقين او کلکے عقيدې پېدا کولو سامان پېدا کړے دے- چې هم ددې تورو په لړ کښې (سردلبران) ليکي-

"جس سے معلوم ہوا کے ان حروف کے تحت میں بھی اسرار الہی مخفی ہیں او ہر حرف کا سر عالم علوی میں موجود ہے"-۱

ترجمه:- پس معلومه شوه چې ددې تورو لاندې الٰهی اسرار پټ دي او د هر توري سرعلوي عالم کښې موجود دے-

په يو حديث شريف کښې هم د هريو ټکي د پټو رازونو د حقيقت پحقله ليکلي دي-

''لکل حرف ظاهر و باطن و لکل حرف حد و لکل حد مطلع''

(ژباړه): رسول الله ص فرمائيلي دي چې د هر يو آيت يو ظاهر او يو باطن دے- او د هر يو ټکي خپل حد دے- او د هريو حديوه مطلع هم ضرور شته-۲

له پخوانه پښتانۀ د پښتونولۍ سره سره کلک مسلمانان هم دي- او عربي ژبه چونکې د قرآن ژبه ده او زمونږه په سيمه د مختلفو قبيلو قومونو اثر له پخوانه پاتې شوے دے يعنې مختلف يرغل ګر دلته راغلي دي او پښتانۀ شوي دي-

د مذهب اسلام سره د مينې او عقيدې له وجې په ټولو ژبو د عربۍ اثر لازم وشو او بيا دلته په هندوستان کښې ويئونکي فارسي ژبه په حکومت کښې دفتري ژبه هم وه او علمي او ادبي ژبه هم وه- ددې اثرات په مقامي ژبو پربوتل فطري عمل وۀ-

د آريائي ژبو په حواله په فارسي او پښتو دواړو کښې اشتراک موجود دے نو دا ضروري خبره ده چې په پښتو ليکوالو باندې د فارسۍ اثرات پربوتل ضروري وو- او د ژبو ترمېنځ دا اشتراک يو طبعي او فطري امر دے-

په دې خبره ټول محققين متفق دي چې د پخوانو آرياؤ قامونو زاړۀ آثار منظوم وو- لکه د رګ ويد او اوِستا وغېره منظوم دي دغه شان د سنسکرت زاړۀ کتابونه هم منظوم دي خو په دې کښې شک نشته چې د ژبې اساس په نثر ابښودل کېږي خو لا د ليک فن نه وۀ او د نثر مقابله کښې نظم يا دول اسان وو نو دغه شان ډېر څيزونه سينه په سينه راغلل او حافظه کښې وساتلے شو-د دواړو ژبو (فارسۍ او عربۍ) زده کړه ضروري ګڼلې شوه-

د پښتو ژبې په ادبي تاريخ کښې د اسلام راتلونه وروستو هم شپږمې صدۍ (۲هـ) پورې د منثور ادب درک نۀ وۀ-اکثر څيزونه سينه په سينه رانقل شوي دي او بيا وروستو تحريري شکل ته منتقل شوي دي- ځکه چې پښتو ژبه د قديمو منظوماتو په شهادت موجوده وه- نو لازمي ده چې نثر به هم وۀ خو د ليک او تحرير د نشتوالي په وجه او بيا وروستو د جنګ وجدل په وجه که څۀ لږ ډېر څيزونه وو نو ورک شوي دي-

دا خبره يقيني ده چې پښتو ژبې د عربۍ او فارسۍ اثر قبول کړے دے او په زړو ليکوالو دغه اثر جوت ښکاري-

د عربۍ ژبې اثر خو هم په دې وجه دے چې ديني ژبه عربي وه- او ټول علوم په

عربۍ کښې وو او بیا تصوف په ځانګړي توګه د عربۍ او فارسۍ نه راغلے دے نو دا ضروري وه چې هغه خلق په فارسۍ او عربۍ پوهېدل او د دواړو ژبو زده کړه ضروري ګڼلې شوه نو په اولیاؤ او عشاقو به د عربۍ فارسۍ ادبي، دیني او تصوفي اثر خامخا وو- ولې چې څومره الف نامه (سي حرفي) لیکونکي دي په کلام کښې یې د عربۍ فارسۍ رنګ په ځانګړي توګه ښکاري او د عربۍ او فارسۍ تقلید مختلف رنګونه پکښې موندے شي- په اکثرو الف نامو کښې د ترنم توري خصوصاً د پیرروښان سبک کښې ډیر زیات دي او یو فني رنګ ئې موندلے دے-

په دې الف نامو کښې اکثر تصوفي اصطلاحات هم د عربۍ او فارسۍ ژبو دي-

په دې نړۍ د تبلیغ کار ټول مشائېخو او صوفیانو کړے دے او چې پخواني دور کښې کوم عربي او فارسي ژبه ویونکي اولیاء کرام راغلل نو علاقائي ژبې ئې زده کړې او خپل درس اوتدریس ئې په علاقائي ژبو کښې شروع کړو- هم دا وجه ده چې اکثر د تصوف اصطلاحات د اسلام لرونکو خلقو په ژبو کښې اشتراک لري او ځنې خو بالکل یو شان دي-

صوفیانو چې د خلقو نفسیات وکتل چې خلق د نثر په مقابله کښې د نظم اثرزیات اخلي- نو ډېرو صوفیاؤ په نظم کښې خپل افکار بیان کړل او د خلقو زړونه ئې وګټل او اسلام نه ئې خبر کړل- خو په الف نامو کښې ساده ژبه او عامې خبرې نه وې ټول وجودي اسرار و رموز او د عشق مختلف مراحل پکښې بیان شوي وي او پوهه پرې هم د عام خلقو کار نه دے-دې دپاره د سلوک و عرفان لاره وي او مقرب خلق پکاروي ـبلکې پوهه پرې خصوصا د متصوفینو کار دے۔

په تصوفي شاعرۍ کښې د الف نامو (سي حرفي) په شکل کښې نظمونه وجود لري او د مختلفو ژبو لیکونکو صوفیاؤ ورته خپل نومونه اېښودي دي- د عربۍ او فارسۍ ژبې مختلف اصناف د وطن په ټولو ژبو کښې شامل او رابج دي-

*"فارسی کے حروف ابجد بھی تیس ہیں اور تیس کو فارسی میں سی کہتے ہیں-اس لحاظ سے اس صنف کو سی حرفی کہا جاتاہے"-۳*

هسې که اوکتے شي نو "سي" په خپل ځان کښې یو خاص وجه او معنیٰ لري- چې قرآن کښې سیپارې هم دېرش دي او د میاشتو ورځې هم دېرش جوړېږي او حروف ابجد هم دېرش جوړېږي- نو دا خبره ضروري ده چې په فارسۍ او عربۍ ژبه کښې هم د الف نامو (سي

حرفي) نموني شته- او له پخوانه عربۍ کښې په حروفو کار شوے دے لکه چې مونږه د "الف بافي المحاضرات" په نامه د يو کتاب ذکر کړے دے چې شيخ ابي الحجاج محمد يوسف اندلسي دمشقي ليکلے دے.۴

او بيا "سي" ټکے خو د فارسۍ ژبې نه دے چې د ېرش(۳۰) معنى لري- نو دا اصطلاح صرف د ټکي نه ده بلکې د الف نامې هم ده او دا په خپله يوه اهمه نقطه ده-

ډاکټرلاجونتي د سي حرفي (الف نامې) متعلق ليکي چې ددې ماخذ خالصتاً "پنجابي" ژبه او ادب دے او دهغې خيال دے چې "آدي ګرنتهـ" کښې د الف نامې قديمي نموني موجود دي -

> "Siharfi is an acrostic on one alphabet. It is not found in any other Indian language as it is not of Persian or Arabic origin we conclude that it is a Punjabi form. The oldest verse of this kind is found in the Adi Granth of the Sikhs and was composed by Arjun Dev. Later on it appears to have become a popular verse –form of the Sufis"۵

ژباړه:- (د هېجا د تورو په ترتيب چې کوم نظم وليکلے شي هغه ته الف نامه (سي حرفي) وئيلي شي- د ادب دا صنف د هندوستان په نورو ژبو کښې نه موندلے کېږي او نه په عربۍ او فارسۍ کښې ځکه زمونږ ددې باره کښې دا خيال دې چې دا د پنجابۍ خپل يعنې ذاتي صنف دے او په دې کښې اولني شعرونه د آدهي ګرنتهـ (1st sep 1604 completed) نه ملاوېږي کوم چې ارجن ديو(۱۵۲۳- ۱۲۰۴) ليکلے دے- وروستو دا صنف صوفياؤ هم خوښ کړو)-

خو زما د ډاکټر لاجونتي دې خبرې سره اتفاق نشته چې دا يو خالص پنجابي صنف دے او بله دا خبره چې دا په عربۍ او فارسۍ کښې هم نشته- وجه دا ده چې خصوصاً د پښتو ژبې د الف نامې اولنۍ نمونه د پنجابۍ ژبې د سي حرفي نه زړه ده-

او بله دا خبره چې سي بذات خود د فارسۍ ژبې ټکے دے چې د ېرشو(۳۰) ته وائي او الف نامه په د ېرشو حرفونو اړه لري-دا حقيقت دے چې پښتو او نورې ژبې د فارسۍ نه اثر اخېستے ښکاري او بيا ټولې د عربۍ نه اثر لرونکې ښکاري- په عربۍ کښې د حروفو متعلق ډېرځۀ ليکلے شوي دي- لکه ''سرالاسرار'' چې ارسطاليس قبل از مسيح کښې ليکلے دے او د دارالعلوم عربيه بيروت لبنان نه په ۱۴۱۵هـ کښې چاپ دے دغه شان د ابي يوسف اندلسي کتاب چې په "الف بافي المحاضرات" يادېږي په دې کښې د حروفو

اسرار بيان شوي دي او محي الدين ابن عربي هم ددې حروفو د بيانولو ماهر استاد او باني ګڼلے شي او "فتوحات مکيه" کښې د حروفو د اسرار او رموز ډيرې نمونې شاملې دي او داسې نور هم ډېر ثبوتونه شته-

د ډاکټر لاجونتي په شان ډاکټر مقبول بيګ ليکي:

1 "پنجابی شاعری دیاں بہت ساریاں ونڈاں نیں اینہاں وچوں اک مشہور ونڈ "سی حرفی" اے-ایہہ ونڈ خالص پنجابی شاعری دی اے مطلب ایہہ پئی نہ ایہہ فارسی دی راہیں آئی-نہ اردو دی راہیں-سی حرفی دا مطلب اے(۳۰) تریہاں حرفاں والی نظم، حرفاں دے مطابق ایہدے تریہہ بند ہوندے نیں تے ہر بند دے پہلے مصرے دا پہلا اکھر ابجد دے حساب نال ترتیب وار آوندا اے".٦

ژباړه:- (د پنجابۍ شاعرۍ ډېر اصناف دي دې کښې د ټولو نه مشهورصنف سي حرفي نظم (الف نامه) ده- دا صنف خالص د پنجابۍ شاعرۍ دے- ددې مطلب دا دے چې دا نۀ د فارسۍ او نۀ د اردو نه پنجابۍ ژبې ته راغلے دے- دا دېرش ټکو والا نظم وي او د حروفو په لحاظ د دې دېرش بندونه وي- او د هر بند اولنۍ مصرعه د ابجدو حروفو په حساب ترتيب وار راځي)-

زۀ دې سره هم متفق نه يم- دا خبرې هم څۀ هوائي ښکاري چې هيڅ قسمه صند نه لري او تر کومه حده چې د الف نامې د فارم او هيئت خبره وه نو دا د شاعرۍ تقريباً په هر صنف کښې ليکلې شوې ده- ورسره ورسره په مذکوره اصنافو کښې د تنوع حق هم لري-

ترکومه حده چې د الف نامې خبره ده نو دا د تصوفي علم نه ډک حروفي نظم دے چې کوم خاص هيت نه لري خو زيات تر رباعيات، غزليات، او مخمس نما هيتونو کښې ليکلے شوي دي او د الف نامې اساس په ۲۸ حروف ملفوظي دے او صوفياؤ پکښې د دوه مزيد ټکو يعنې (ل+ ا = لا ) اضافه کړې ده او د تورو شمير ئې دېرشو ته رسي- ددې نه علاوه الف نامه که هر څومره د هجاد توريو په ترتيب سره ليکلې شي خو د الف نامې موضوع چونکې د توريو (حروفو) اسرار بيانول دي نو که چرې هجا توري بې ترتيبه بيان شي خو موضوع يې آزاده موضوع شي نو هغه ته هم الف نامه وئيلے شي- هسې خو الف معنٰی "انار" او "ب" معنی بوتل که هر څو د توريو ترتيب لري خو "الف نامه" نشي بللې کېدې- يعنې د الف نامې دپاره مخکښې بيان شوي شرايط ضروري او لازم دي-

د حروفو اسرار بيانول د ارزاني خيشکی په زړۀ پورې موضوع ده هغۀ خپل ټول

دېوان ته د "الف نامې" اشاره کړې ده- لکه چې وايي:

يـــو دېـــوان پـــه پښـــتو ژبـــه
پـــه دېـــرش حـــرف (بـــه) کـــړم بنـــا ۷

خو دا خبره ثابته او مسلمه ده چې ارزاني خېشکی نه صرف يو اولنے صاحب دېوان صوفي شاعر دے بلکې په ډېر څۀ کښې د اوليتونو معمار او حقدار دے لکه غزل، رباعي، نظم، تاريخ ګويې، تخلص او خصوصا د الف نامې (سي حرفي) د ليکلو اولين حقدار هم دے-

په خصوصي توګه الف نامه ليکل چې د تصوفي علومو نه ډک حروفي نظم دے او ارزاني خېشکی د دے الف نامو (سي حرفي) نه علاوه د روښاني تصوف اتو مقاماتو حروفو اسرار او رموز هم د خپل مکاشفاتي علم په رڼا کښې بيان کړي دي-

مياظفرمقبول بيګ په خپل مضمون "سی حرفی کی روايت" کښې ليکي:-

"گیارہویں اور بارھویں صدی عیسوی میں فارسی مصنفین نے ایک نئے انداز سے لکھنا شروع کیا وہ اپنے شاعری کے شروع میں مہینے یا دن کا نام لاتے تھے- یہ صنف بارہ ماہ یا آٹھوارہ کے نام سے مشہور ہوئی- ان اصناف کی دو کتابیں "دوازدہ ماہ" اور "روزہائے ہفتہ" آز مسعود سعد سلیمان لاہوری (۱۰۴۸ء—۱۱۲۷ء) ملتی ہیں"-۸

ژباړه:- يولسمه او دولسمه صدۍ عېسوي کښې د فارسۍ ليکوالو په يو نوې پيرايه کښې ليکل شروع کړل- هغوي په خپله شاعرۍ کښې د مياشتو يا ورځو نومونه په وړومبي کښې ليکل يا راوستل، او د صنف په "باره ماه" يا آٹھوارے (هفتی) په نامه شهرت اوموندو- په دې لړ کښې دوه کتابونه "دوه زده ماه" او روزهائے هفته ملاؤ شوي دي کوم چې د مسعود سعد سلمان لاهوري (۱۱۲۷ء- ۱۰۴۸ء) په نامه منسوب دي"-

عبدالغفور قريشي "پنجابي ادب دی کهانی" کښې ليکي:

"حضرت داؤدؑ (۱۰۴۰ — ۹۷۰ ق م) نے پہلی سی حرفی لکھی تھی جو عہد نامے میں موجود ہے- گورو ارجن دیو اور بھگت کبیر باون (۵۲) حرفی لکھنے والوں میں پہلے لوگ ہیں- گورونانک (۱۵ اپریل ۱۴۶۴-۲۲ ستمبر ۱۵۳۹) ۳۵ حرفی کے بانی ہیں ۳۷ حرفی کے بانی حضرت سائیں مولا شاہ ہیں- حضرت داؤدؑ کا دور قبل مسیح کا تھا اسلیئے ہم فیصلہ کرنے سے قاصر ہیں کہ وہ کتنے حرفی تھی"-۹

ژباړه: حضرت داؤد(ع) وړومبے سي حرفي (الف نامه) نګار دے او دا په عهدنامه کښې شامله ده- دغه شان ګورو ارجن دیو او بهګت کبیر باون حرفي لیکوالو کښې وړومبنی خلق دی او ګورو نانک(۱۵ اپریل ۱۴۶۴- ۲۲ ستمبر ۱۵۳۹) ۳۵ حرفي بنیاد اېښودے دے- او د ۳۷ حرفي باني حضرت سائي مولاشاه دے- (د داؤدعـ دور د ق م نه اول دے لهذا مونږ دا نشو وئیلې چې هغه څو حرفي وه)"-

## د حروفو قسمونه:

عالي حروف( حروف عاليات):

ملفوظي حروف (حروف ملفوظي):

مهمله حروف (حروف مهمله):

منقوطه حروف (حروف منقوطه):

## د الف نامې تخليقي عوامل:

د علم پوهې او اعلی مقام منبع صرف حضرت انسان دے کوم چې د حضرت آدم ع په صورت کښې جلوه ګر شو- او خدائے فرشتو ته وويل چې زۀ په زمکه خپل خليفه پېدا کونکے يم- او بيا ورته فرشتو سجده وکړله- او په خپل آخري کتاب کښې وفرمايل! وَعَلَّمَ اٰدمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّها- ۱۰

ژباړه: "او وئې ښودل آدمع ته نومونه ټول"

هم دغه شان دنيا ته راتلل او د ډېرو څيزونو آغاز کېدل شروع شو- انسان د خپلې آسانئ او ښۀ ژوند تېرولو دپاره فکرمند شو- په ټول کاينات کښې چې کوم ځائے ساه لرونکي څيزونه دي- هغوي خپله ژبه، احساس او ژوندلري او بيا حضرت انسان چې خدائے اشرف المخلوقات پېدا کړے دے- خدائے وائي:

وَلَقَدْ كَرمنَا بَنِی آدمَ ۱۱

ژباړه: "ما بني آدم له ډېر عزت ورکړے دے"

د ټولو نه غټ عزت د قرآن وحديث په رڼا کښې حکمت او دانائي ده، علوم دي معرفت او پيژندګلی ده- نو دا لازمه ده چې د علومو او زده کړې دپاره څۀ خاص ټکي وي- ولې چې خبرې مضامين، مفاهيم د الفاظو نه جوړېږي او لفظ د حروفونه- له ازله د دې نخښې نخښانې شته- چرته نخښې شکلونه او بيا ټکي وي- چې انسان د عجيبه تجربونه

پس وضع کړي دي خو که وکتے شي نو په قرآن کښې "حروف مقطعات" داسې حروف دي چې صرف رسول ص او خداے پرې ښۀ پوهېږي او هغه خلق چې خداے ورته د خپل خاص علم نه څۀ حصه ورکړي وي-

هم ددې له کبله مسلمانانو د حروفو او اعدادو علم راؤوېستو چې "رمل" او"جعفر" ئې غټ مثالونه دي- او په قديمه زمانه کښې د حضرت داؤدع د اولني سي حرفي نګار ذکر شته دے- که هر څو د الف نامې په شرائطو نۀ پوره کېږي- خو بيا هم يو شکل او صورت خو دے- دغه شان په عربۍ کښې " الف بافي المحاضرات" چې شيخ ابي الحاج يوسف ابن محمد البلوي أندلسي ليکلے دے-چې د عربۍ د تورو ترتيب وار شرح ئې کړې ده- هم دغه شان آذربائيجان کښې يوه ډله وه چې حروفيه يادېږي- هغوي د حروفو رمزونه بيان کړۀ- اسماعيليه يوه ډله وه چې هغوي هم په اعدادو او تورو خپل عقايد لرل- لکه اووۀ (۷) زمکې اووۀ (۷) آسمانونه اووۀ (۷) ستوري اووۀ (۷) د بدن غړئ او په سورة فاتحه کښې اووۀ (۷) آياتونه، دغه شان فيثاغورث په حروفو او اعدادو باندې عقيده لرله-

ترکي کښې هم يوه ډله وه چې خپل مطالب او مفاهيم به ئې په حروفو ولاړول او د ابن سينا باره کښې راځي چې هغه هم د هر حرف په خاص معنٰی قايل ؤ- او بيا په ځانګړې توګه صوفياء د حروفو اسرار بيانول شروع کړۀ چې د ابن عربي نامه په کښې د يادو وړ ده- کله چې په دې هېواد کښې د روښانيانو تصوفي تحريک راپورته شو او هغوي اول پښتو ته املاء او ليک دود وضع کړو او بيائې خپلو خلقو ته دقرآني حرفونو تشريح وکړه خپل مطالب ئې پکښې بيان کړۀ – پښتو ادب او الفنامې ئې د روښاني تصوف د رازونو د افشاء دپاره وليکلې- او بيا متصوفينو دا ضرورت محسوس کړو چې خپل خلق د کاېنات الهی د رمزونو او اسراراتو نه خبردار کړي او عام اولس ترې خبر شي- او د حديث موافق چې خلقو سره د هغوي د عقل مطابق خبرې پکار دي، عمل وشي- دغه شان د الف نامې د تخليق اصل محرک د پير روښان په تعليماتو کښې د ( سي حرفها) يعنې د ديرشو حرفونو د تعليم اهميت دے – او په تصوف کښې ټول صوفيان د حروفو د اسرارو، مطالبو، معنو او رمزونو قايل دي- او بيا نه صرف روښانيانو بلکې د اخون درويزه بابا مکتب ګنو شاعرانو د هغوي په تقليد کښې الف نامې وليکلې-

پښتو شعري ادب کښې د الف نامې ابتداء د پیرروښان د مکتب یو ځلنده شخصیت ارزاني خوېشکي نه کېږي- کوم چې د بایزید روښان مرید او اولنې خلیفه هم وو-۱۲

یعنې پښتو شعري ادب کښې روښاني تصوف لیکوالو په اولنې ځل الف نامه متعارف کړه- په دې الف نامو کښې ارزاني د روښاني تصوف اتۀ پوړئ بیان کړي دي- ارزاني په خپل دېوان کښې د الف نه تر " ی" پورې حروف پرله پسې ترتیب وار د تصوفي مطالبو سره بیان کړي دي- د وړومبۍ الف نامې د تاریخ په حقله خو ارزاني څۀ نۀ دي لیکلي خو د دوېمې الف نامې تاریخ هغه پخپله داسې بیانوي-

فقیـــــر کوښـــــلے دے دا شـــــعر
پـــه نهـــ صـــدنو (۹۹۰) د ســـنه دے۱۳

یعنې دا معلومېږي چې ارزاني په لسمه صدۍ هجري کښې اولنۍ الف نامه لیکلې ده- په دې الف نامو کښې ئې د راز او نیاز او تصوفي رموز ښکاره کړه- د دېوان په شروع کښې لیکي:

تر الف کوزه تریا فقیر راوړه بې ریا۱۴

بلکې هغه خپل ټول دېوان "الف نامه" بولي لکه چې وائي:

یو دېوان په پښتو ژبه په دېرش حرف به کړم بنا۱۵

ډاکټر پروېز مهجور د ارزاني خویشکي د پنځو الف نامو ذکر کړے دے-۱۶

دې نه پس د ارزاني په پېروۍ کښې نورو روښاني لیکوالو هم الف نامې ولیکلې - د ارزاني نه پس مرزاخان انصاري یوه غزلېږه الف نامه ولیکله- چې هر یو حرف ئې په یو غزل کښې تشریح کړے دے- دا الف نامه ۳۱ غزلې لري- دغه شان علي محمد مخلص یوه غزلېږه الفنامه لیکلې ده- خونېمګړې ده- دې نه پس بل نوم د میا واصل روښاني راځي چې درې الفنامې ئې لیکلې دي- هم په دې لړ کښې دولت لواڼي روښاني دوه الفنامې لیکلې دي چې څلور بېته دي- د روښاني مکتب لیکوالو په دې الف نامو کښې د روښاني تصوف لارې پرانستې دي- او د روښاني سلوک ټول رازونه ئې په حروفي ډول روښانه کړي دي-دغه شان آدم بټکزئ خیشکې هم خپل ټول دیوان الف نامه یاد کړې دې او په دیوان کښې د الف نامې

نمونے شته -

په دې وختونو کښې د الفنامې شهرت زيات شو او نورو ډلو چې په خصوصي توګه د اخون درويزه مکتب دے- د روښاني ليکوالو په تقليد او نظرياتي اختلاف په وجه الف نامې وليکلې- دا خبره ډېره د خوند ده چې دويم مکتب د اختلاف له وجې ليکل کړي دي او په خپله ئې د هغې اقرار هم کړے دے خو ولې بيا هم د پښتو ادب لمن ئې د نايابو ملغلرو نه ډکه کړې ده- اخون درويزه بابا په خپل مشهور کتاب "مخزن الاسلام" کښې خپله الف نامه راوستې ده چې مسجع ډوله ده او د "الف" نه تر "ی" ئې حروفي ترتيب برابر دے خو صرف د ''ب'' پتهۍ نۀ لري او اوږدۀ اوږدۀ بندونه لري۱۷

دغه شان د کرېمداد الفنامه هم په "مخزن الاسلام" کښې شته- دا الفنامه غزليزه ده او په هر غزل کښې ئې يو توري تشريح شوے دے-

د کريمداد دا الف نامه په فني لحاظ يوه اعلىٰ نمونه ګرځولې شوې ده۔۱۸-

دغه شان عبدالحليم دوه الف نامې ليکلې دي يوه مکمله او بله نيمګړې ده او د دوو تورو صرف د "ش" او "غ" په غزليزه کښې شرح شوې ددي-او د عبدالحليم او د مصطفىٰ محمد الفنامي هم د مخزن د ښکلا باعث دی- او د [د ،ق، ل، هـ، لا ، ې] توري پکښې شامل دي-۱۹

د اخون درويزه بابا د مکتب ليکوالو هم په الف نامو کښې ښۀ اخلاص ښکاره کړے دے- "بيانات افغاني" چې د عبدالغني کاسي ليک دے هغوي د دوست محمد په الف نامه کښې د "ش" او د ولي محمد د "ر" د پتهۍ ذکر کړے دے- ۲۰

وروستو بيا الف نامو پوره رواج وموندو او نورو ليکوالو هم الف نامې په خپلو ديوانونو کښې شاملې کړې دي- چې په هغو کښې حافظ الپورے، ....... معظم شاه، احمد شاه بابا او د کلاچۍ احمد د يادولو وړدي- دوي هم د پښتو ژبې تصوفي شعري ادب کښې خپله خپله حصه اچولې ده- ۲۱

د اول نه خو الفنامه صرف يو تصوفي حروفي نظم وۀ خو بيا وروستو ئې دومره شهرت او محبوبيت وموندو چې اولسي ادب کښې هم د الفنامو په طرز ليکل وشو- په ځانګړي توګه په لنډيو او چاربېتو کښې د "الف" "با" حروفو پېروي وشوه- په اولسي شاعرانو کښې د الف نامې په حواله دآدم ، پائنده محمد کرېه وال ، علي حېدر جوشي او

میرحسن آخوند خویشکي نامې د ستائېلو وړ دي-۲۲

دغه شان د الف نامې په تقلید کښې فالنامه ولیکلې شوه چې په الفبائي ترتیب وه- لکه خوشحال بابا چې کومه فالنامه اولیکله چې د پښتو توري په کښې شرح شوي دي - او بیا ددې تقلید کښې ډېرې فالنامې ولیکلې شوې چې احمد ٬عبدالروف ٬عجب خان ٬راحت زاخیلی ٬شاد محمد اود نعمت الله نامې پکښې د ستائینے وړ دي-خودا خبره حتمي ده چې فالنامه او الف نامه بیل بیل څیزونه دي-۲۳

د حبیب الله رفیع د وېنا مطابق د خوشحال بابا "فالنامه" د بنیاد یعنې اولنۍ فالنامه حق لري- بعض محققین دا الف نامه او فالنامه بولي، خو دا الفنامه نهٔ ده بلکې فالنامه ده- د خوشحال بابا د فالنامې نمونه ما په خپل تحقیق کښې شامله کړې ده- چې دا راتلونکي خلق د فالنامې فني او فکري جوړښت نه خبر شي، او ورسره د هغه کسانو پېژندګلي هم اسانه شي چاچې د الف نامې په تقلید کښې فالنامې هم په الفبائي ترتیب لیکلې او د خپل ذهن او فراست د مطالعې په رڼا کښې ئې د حروف په بڼه یعنې د راتلونکي وخت په حقله آګاهي وشي- همېش خلیل په خپل کتاب "ورکه خزانه" دویم ټوک کښې لیکي:

" په دې خلقو کښې د مصري خانم ۱۱۵۰ھ چې د خټکو کورنۍ سره ئې تعلق لرلو یو اوږده منظومه فالنامه ئې ولیکله چې د کوهاټ ټیري کښې پښتو ادبي سوسائټۍ سره وه- نمونه ئې داده- "

که الف درشي په فال کښې
ستاخو بې ده په همال کښې
چې په غلیم به دې لاس برشي کامراني ښادي به درشي۲۴

ددې نه علاوه په الفبائي ترتیب سره لکه الفنامه، اولس نامه، او بازنامه، باتور نامه وغېره تر هـ پورې لکه هوتک نامه لیکلې شوې ده-

خو د همېش خلیل په وېنا کښې حقیقت نه ښکاري چې هغه دا فالنامه د مصري خانم یادوي، ځکه چې حبیب الله رفیع دا "فالنامه"د خوشحال بابا یاده کړې ده اووائي چې دا د مصري خانم نه ده- او د قلم ئې کېدے شي خو تخلیق نه شي کېدے- او دغه شان د فالنامه نګارانو په ټولګي کښې د احمد تیراهي، رضوګل مروت، شاه محمد کاکړ، راحت زاخیلي، عبدالروف ډري خیل، مستقیم ، حنان بارکزی، نعمت الله نوښارے، عجب خان د

پچگۍ نامې د قدر او ستائنې وړ دي-

دغه شان آصف صميم په خپل کتاب "پښتو نامې" کښې په الفبائي ترتيب ټولې نامې داسې يادوي-

الف- الف نامه، آزادنامه، آمدنامه، احمد نامه، اختلاف نامه آخلاق نامه، خبر نامه، اساس نامه، اشتياق نامه، اعلان نامه، آفريدي نامه، افضل نامه، ايمان نامه، اولس نامه-

ب- باتورنامه، بازنامه، باطل نامه، بخت نامه، بيربل نامه، بيمار نامه-

پ- پشتونامه، پدرنامه، پيانامه، پټ نامه، پېش نامه-

ت- تبصره نامه، ترسنامه، تشريف نامه، تعريف نامه، تعليمات نامه، تولدنامه

ج- جاويدنامه، جهدنامه، جهت نامه

ح- حالنامه،

څ- څنګل نامه، څما سفر نامه

خ- خاکي نامه، خاورنامه کلان، خواب نامه،

د- دستارنامه

ر- رفعت نامه، ريل نامهز- زنځيرنامه

س- ساعت نامه، ساقي نامه، سپاسنامه، سحرنامه، سرنامه، سعادت نامه، سفرنامه، سکندرنامه، سوات نامه، سياست نامه،سوات نامه،جواب نامه-

ش- شاهنامه، شجاعت نامه، شخصيت نامه، شناخت نامه، شمائېل نامه، شهادت نامه

ص- صحت نامه، طب نامه، طوطي نامه

ع- عبرت نامه، عهدنامه غ- غربت نامه، غلط نامه، غم نامه

ف- فالنامه، فاني نامه، فتح نامه، فراق نامه، فرخ نامه، فقرنامه، فضل نامه ، فيټ نامه، فيروز نامه-

ق- قبائلي خبرنامه، قيامت نامهک- کابل نامه (منظوم سفر)، کسب نامه

ګ- ګل نامه ل-لغت نامه، لوټ نامه

م- محمود نامه، مذهب نامه، معراج نامه، معذور نامه، مفلس نامه، موعظه نامه،

مهاجر نامه، مهار نامه-

ن- نسب نامه، نصحیت نامه، نظام نامه، نعت نامه، نور نامه-

و- واسع نامه، وصیت نامه، وفات نامه-

هـ- هشنغر نامه، هندکونامه، هوتک نامه، وغیره- **۲۵**

ددې خبرو او د مختلف نامو د تفصیل دپاره د اصف صمیم صاحب "پښتونامې" نومې کتاب ته رجوع کېدے شي، چونکې دلته زما کار "الف نامې" سره دے ځکه دلته دا خبرې بس دی-په مجموعی توګه دا خبره مسلمه ده چې په دے نړئی د الف نامې ابتداء د روښانیانو نه شوې ده او بیا درویزه مکتب هم د دوې په تقلید کښې دا پت ساتلے دے- او ډیر روستو پورې متفرق لیکوالو هم ډیرې جورے الف نامې لیکلے دې چې پکښې تصوفې او فکري تجربې شوي دي- دغه شان د الف نامې اثرات په نورو مقامی ژبو پریوتل فکرې عمل دے ځکه په چاپیرچل کښې په خصوصې توګه پنجابې، سندهې، سرائیکې او هندکو ژبو کښې هم صوفې شعراؤدا تقلید ساتلے دے-چې هر قسمه فنې او هنرې باریکې لرې او دا ټول د روښانیانو اعجاز دے چې د نړې په زیاتره غټو مقامې ژبو کښې ئې جوت اثرات ښکارې-

# References:

1.Zoqi, H,S,S,M.(2008).*Siridilbaran.* RR Printers:Lahore,43.
2.Mahjor,P,Dr.(2005). *Da Arzani Kheshgi Kulyat*. Jadoon Printing Press:Peshawar,154.
3.Hasmi,H.(2009).*Mukhtasir Tarikh Zuban o Adab Punjabi*, Muqtadira Qaumi Zuban:Islamabad,95-96.
4.Raffi,H.(2009).*Alfnami Da Wasil Rokhani.*Information and Cultural Ministry,Ahmad Publication,10.
5.Raza,A.(2009). *Siriaki me Siharfi ky Rewayat (Mphil Thesis).*Allama Iqbal Open University:Islamabad,10-11.
6.Ibid ,12.
7.Mahjor,P,Dr.(2005). *Da Arzani Kheshgi Kulyat*. Jadoon Printing Press: Peshawar,223.
8.Javed,I,Dr.(1997). *Punjabi Zuban o Adab Ky Mukhtasar Tareen Tarikh* Muqtadira Qaumi Zuban:Islamabad,317.
9.Ibid,322.
10.AL Quran, 2:31.
11.Al Quran, 17:70
12.Brekh,D.*Da Wasil Rokhani Alfnami (Edition 136).*Kabul Mujala, 30-31.
13.Mahjor,P,Dr.(2005). *Da Arzani Kheshgi Kulyat*. Jadoon Printing Press:Peshawar, 155.
14.Ibid, 221.
15.Ibid, 234.
16.Ibid, 166.
17.Hasrat,M,Z,Dr.(2014).*Makhazan ul Islam Da Akhun Darweza Baba.*Amir Publisher:Peshawar, 184-209.
18.Baba,A.(1987). *Makhzan (2nd Edition).*Jadoon Press:Peshawar,151-179.
19.Samim,A,M.(2006).*Pukhtu Nami.*Danish Publications,10.
20.Kasi,A. (NP).*Bayanat e Afghani (Unpublished Manuscript).*Kabul.
21.Samim,A,M.(2006).*Pukhtu Nami.*Danish Publications,15.
22.Ibid, 11-16.
23.Ibid, 91-95.
24.Khali,H.(1965).*Wraka Khazana.(2nd Edidtion).*Peshawar.283.
25.Samim, A,M.(2006).*Pukhtu Nami.*Danish Publications,1-154.